د افغانستان بانک اسلامي امارت
دافغانستان بانک

# د اوسني وضعيت لپاره د اسعارو د تيلګرافي ليږدونو لارښود

د لومړني تدوين نېټه: ۱۴۰۰- تله

د تعديل نېټه: ۱۴۰۰ – کب

## د مطالبو لړلیک

مخففونه او اصطلاحګاني:............................................................................................................ 3

سریزه ............................................................................................................................ 4

د پلي کولو محدوده.............................................................................................................. 4

لومړۍ ماده: د سوداګریزو بانکونو واکونه او مکلفیتونه ......................................................................... 4

دویمه ماده: د افغانستان بانک مسؤلیتونه او صلاحیتونه.......................................................................... 6

لومړی ملپانه: ................................................................................................................. 7

## مخففونه او اصطلاحګانې:

- د اسعارو ټیلګرافي لیږدوني (Foreign Telegraphic Transfers): ټیلګرافي لیږدونه(TT=TelegraphicTransfers)د پیسو لیږلو یوه برېښنایي طریقه ده چې په ټوله کې له هیواده بهر د بانک له لارې د معاملو لپاره کارول کیږي. ټیلګرافي لیږدوني د ټیلیکس په نوم هم یادیږي. په ټولیزه توګه ټیلګرافي لیږدونه له دوو تر څلورو کاري ورځو په اوږدو کې ترسره کیږي او د لیږدوني د مبدا او مقصد او همدارنګه د مبادلې د هر ډول اړتیا پورې تړاو لري.
- **حکمي شخص:** یو حقوقي شخص ته وایي چې د قانون په سپارښتنه او د یو یا زیاتو حقیقي اشخاصو په یوځای کیدو سره رامنځته کیږي.
- **حقیقي شخص:** حقیقي شخص په حقیقت کې هماغه انساني شخص ته ویل کیږي.
- **د پیرودونکو د پیژندنې او تثبیت شدید تدبیرونه (Enhanced Due Diligence) یا EDD:** د پیرودونکو د پیژندنې د تشخیص او تثبیت لپاره اضافي تدبیرونهنیول چې لاندې موارد پکې شامل دي: د غیرمعمولو یا شکمنو کړنو یا معاملو په ګوته کولو لپارهد سوداګریزې اړیکې د څارنې د حدودو او درجې تشدید، د پیرودونکي په اړه اضافي مالومات ترلاسه کول، د سوداګریزې اړیکې او پیسو یا شتمنیو د سرچینې رښتینې ماهیت، یا د اړوندو څارنیزو مراجعو لخوا هر ډول تاکل شوي تدبیرونه.
- **د بانک عامل پلاوی:** د بانک عامل پلاوی چې لږترلږه پنځه غړي لري او عامل رئیس، مرستیال رئیس، (عملیاتي آمر، د اعتبارونو آمر او مالي آمر) په کې شامل دي.
- **نغدي امانت (Cash Deposit):**نقدي امانت هغه پیسې دي چې تاسې یې بانک ته ورکوئ. وروسته له هغې بانک له منل شویو شرایطو سره سم د یادو پیسو د خوندي ساتلو او ورکولو مسؤلیت لري. دلته نغدي امانت د پراخه مفهوم په مانا نه دی یوازې نغدې پیسې په ځان کې رانغاړي.
- د افغانستان له ګمرکونو د مالونو د ترخیص اظهار لیک (Afghan Customs Clearance Declaration) یا ACCD
- **انوایس (Invoice):** یو مشتري ته د توکو یا خدمتونو د استولو لړلیک چې لږترلږه پکې د بیو، کمیتو او د لیږدولو د لګښتونو یادونه شوې وي.
- **هیواد ته ټیلګرافي لیږدونې(Inward remittance):** د یوه غیرمقیم شخص له بانکي حسابه د یوه مقیم شخص یعني په هیواد کې دننه د یو شخص بانکي حساب ته د پیسو استول یا په برېښنایي توګه لیږل.

## سريزه

د اسعارو تيلګرافي لېږدوني د سوداګرۍ په اسانتيا کې پياوړی رول لري. د هېواد بانکونه د تأسيس له نېټې څخه تر اوسه پورې هڅې کړې ده څو له بهرنيو معتبرو بانکونو سره د بانکي اړيکو په رامنځته کولو سره وارداتي او خدماتي شرکتونو ته د سوداګرۍ د اسانتيا او خدمتونو د وړاندې کولو زمينه برابره او د ادا‌ينو په چټکتيا کې د فعالي ونډې په لرلو سره چې د هېواد د اقتصادي ودې لامل کېږي، فعاله ونډه ولري. د افغانستان بانک د مرکزي بانک په توګه، تل هڅه کړې څو د نړيوالو منل شويو معيارونو او د هېواد له شرايطو سره سم، د اسعارو د تلګرافي لېږدونو په برخه کې قوانين، مقررې او لارښودونه تدوين او تصويب کړي او په يو وار دې د بانکي سکتور په واک کې ورکړي.

په هېواد کې د وروستيو تحولاتو په پام کې نيولو سره، د هېواد د توکو د اړينو وارداتو او خدمتونو د پيسو د ورکړې لپاره د نړيوالو پولي لېږدونو اسانتيا له بشري بالقوه کړکيچ سره د مبارزې په موخه د افغانستان اسلامي امارت يو له اقتصادي لومړيتوبونو څخه دي. له همدې امله، د افغانستان بانک د دې مهمې چارې د ترسره کولو په موخه، دا لارښود جوړ کړی او د بانکونو په واک کې يې ورکوي څو له مخې يې د اسعارو د لېږد اړوند چارې تنظيم شي.

## د پلي کولو محدوده

د دې لارښود د موادو د پلي کولو مسئوليت د سوداګريزو بانکونو له مکلفيتونو څخه دی او د اړتيا وړ معاملو د ترسره کولو په موخه د پيسو ادا‌ينې او تيلګرافي لېږدوني رانغاړي او لاندې موارد په کې شامل دي:

1. په ټوله کې د لومړنيو توکو واردات او په ځانګړې توګه خوراکي توکي؛
2. د طبياو کرنيزو درملو واردات؛
3. د سون توکو واردات؛
4. د روغتيايي توکو واردات؛
5. د خامو موادو، پرزه جاتو اود صنعت، توليد، کرنې‌او خدمتونو د اړتيا وړ ماشين آلاتو واردات؛
6. د برېښناد لګښت د پيسو لېږدوني؛
7. اړين مخابراتي او ټرانسپورتي توکي او خدمتونه؛
8. له هېواده بهر په زده کړو بوخت افغان زده کړيالانو ته د پيسو لېږدوني؛
9. د تراکتور د ټايرونو، جنراتور، مبلايلو، پرزه جاتو او د موټر د ټايرونو واردات؛
10. د سيستمونو حفظ او مراقبت؛ او
11. نور هغه غير تجملي موارد چې د سوداګريزو بانکونو لخوا تشخيص کېږي.

## لومړۍ ماده: د سوداګريزو بانکونو واکونه او مکلفيتونه

1. ټول سوداګريز بانکونه د اسعارو د تيلګرافي لېږدوني د معاملو د ترسره کولو په برخه کې د افغانستان بانک د قوانينو، مقررو، کړنلارو، متحدالمال مکتوبونو او نورو دستورونو په پلي کولو اړ دي.
2. سوداګريز بانکونه اړ دي څو د اسعارو د تيلګرافي لېږدونو اړوند سندونه په دې لارښود کې له ټاکل شويو لومړيتوبونو سره سم له خپلو مشتريانو څخه راټول، وېې څېړي او د هغې له سموالي څخه ډاډ ترلاسه کړي.
3. بانکونه نشي کولای د حقيقي اشخاصو پيسې د هغو حکمي اشخاصو حسابونو ته ولېږدوي چې په دې لارښود کې د ذکر شويو توکو او خدمتونو واردونکي وي.
4. د هغو حکمي اشخاصو له حسابونو څخه چې د هغوی د فعاليت ماهيت د لومړنيو/اړينو توکو او خدمتونو واردات نه وي، د حکمي اشخاصو حسابونو ته چې په دې لارښود کې ذکر شوي سوداګريز ماهيت لرونکي وي، د پيسو لېږدوني د اجراء وړ نه دي.
5. سوداګريز بانکونه کولای شي د لومړنيو توکو او خدمتونو د واردوونکو حکمي اشخاصو د غوښتنې پر بنسټ په خپلو بانکي حسابونو کې له شته وجوهو څخه د ۳۰ ورځو په موده کې تر ۲۵٪ (پنځه ويشت سلنې) پورې په دې

لاربنود کې د ذکر شویو توکو او خدمتونو د نړیوالو اداینو په موخه ولیږدوي، په دې شرط چې د بانکي څارنې د لوی آمریت له اړوند متحدالمال مکتوب سره سم په تېره میاشت کې له اړوند بانکي حساب څخه پیسې ویستل شوي نه وي. د معاملې پاتې لیږدول کېدونکی مبلغ وروسته له دې چې پیسې په نغدي توګه د مشتریانو په اړوند حساب کې جمع شي، لیږدولی شي.

6. حکمي اشخاص چې د دې لاربنود د لومړۍ مادې له ۵ فقرې سره سم، د لیږدونې په موخه د خپلو نغدي پیسو ۲۵٪ کارولې وي، نشي کولای د یوې میاشتې په اوږدو کې په نغدي توګه له یاد حساب څخه پیسې وباسي.
7. که چیرې په دې لاربنود کې ذکر شوي حکمي اشخاص د پام وړ پیسې د لیږد په موخه په نغدي توګه تحویل او په خپل حساب کې زیاتې کړي (Cash Deposit)، بانکونه کولای شي د هغې ټول زیات شوی مبلغ د هغوی د فرمایش سره سم، ولیږدوي.
8. سوداګریز بانکونه کولای شي په افغانۍ معادل د پیر د سند د ورکړې وړ مبلغ د اسعارو د تیلګرافي لیږدونو په موخه له خپلو حکمي مشتریانو څخه ترلاسه کړي.
9. سوداګریز بانکونه اړ دي څو د افغانستان بانک ته د اسعارو د تیلګرافي لیږد د سندونو له لیږد څخه مخکې، یاد سندونه لږ تر لږه لهلومړۍ ملیاټې سره سم خو چې په دې پورې محدود نه وي، له خپلو مشتریانو څخه ترلاسه، ویې څېړي او له سموالي څخه یې ډاډ ترلاسه کړي.
10. بانکونه اړدي څو د هغه شمېر حکمي اشخاصو د مشتریانو د هویت د تشخیص او تثبیت (EDD) د شدیدو شرایطو او تدابیرو له پلي کولو څخه ډاډ ترلاسه کړي چې نوی یې د لومړنیو توکو د واردولو سوداګریز جواز ترلاسه کړی وي.
11. د حکمي شخص د وروستۍ معاملې د افغانستان د ګمرک څخه د توکو د ترخیص اظهار لیک (ACCD) د نوې غوښتنلیک شوې معاملې له نورو مرستندویه سندونو سره مل او د افغانستان بانک ته ولیږل شي.
12. د بیجک (Invoice) له مالوماتو سره په ګمرکي سندونو کې د ذکر شوي توکي د مبلغ، نوعیت او مقدار تطبیقول د سوداګریزو بانکونو له مسؤلیتونو څخه دي.
13. ګمرکي اسناد باید د استعلام یا نورو منل شویو لارو چارو له لارې د بانکونو یا مالیې وزارت لخوا تائید شي.
14. سوداګریز بانکونه اړ دي څو تائید شوي اسناد د هرې معاملې او هر مشتري په توپیر سره ترتیب او د مکتوب له لارې د خپل عامل پلاوي د یو تن غړي په لاسلیک سره د خطرونو او قانون د رعایت لوی آمریت د پام وړ د افغانستان بانک ریاست ته ولیږي.
15. سوداګریز بانکونه د اسعارو د تیلګرافي لیږدونو په برخه کې د تائیدۍ د پاڼې له ترلاسه کولو وروسته، کولای شي له خپلو اړوندو کړنلارو سره سم اړینې کړنې ترسره کړي.
16. سوداګریز بانکونه نه شي کولای چې د افغانستان بانک له تائیدي پرته بهرنۍ اسعاري تیلګرافي انتقالي معامله ترسره کړي.
17. سوداګریز بانکونه اړ دي چې د پخوا په څېر د اسعارو د ټیلګرافیک لیږد په اړه خپل راپورونه اړوندو څانګو ته واستوي.
18. سوداګریز بانکونه واک لري چې د خپلو پیرودونکو هغه غوښتنې رد کړي چې د قوانینو، مقرراتو، متحدالمال مکتوبونو او د لاربنوونو سره سمون نه لري.

همدارنګه د هیواد سوداګرو ته د بانکي خدمتونو د اسانتیا، هڅونې او ښه والي په موخه داخل ته د لیږدونو (Inward remittance) په برخه کې سوداګریز بانکونه اړ دي چې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

19. سوداګریز بانکونه اړ دي چې له صادراتو څخه ترلاسه شوې پیسې پرته له کوم محدودیت څخه صادرونکو سوداګرو ته برابرې او لاسرسی ورکړي.
20. سوداګریز بانکونه اړ دي چې له نړیوالو بنسټونو څخه د بشري مرستو اندازه د افغانستان بانک لخوا د وتلو(پیسو ایستلو) په برخه کې له محدودیتونو څخه مستثنا کړي.

## دویمه ماده: د افغانستان بانک مسؤلیتونه او صلاحیتونه

1. د افغانستان بانک د سوداگریزو بانکونو رارسیدلي غوښتنلیکونه له ملپانو سره یو ځای د اړوندو کړنلارو او لارښود سره سم ارزوي.
2. که ترلاسه شوي اسناد بشپړ وي، اړونده آمریت د ترلاسه شویو غوښتنلیکونو تائیدیپه رسمي توگه د افغانستان بانک د لوی آمریت (د خطرونو او قانون د رعایت د لوی آمر یا مرستیال) په لاسلیک سره سوداگریز بانک ته لیږدوي.
3. که چیرې ترلاسه شوي اسناد د اړوندو کړنلارو او لارښوونو سره سمون ونه لري، د سوداگریزو بانکونو غوښتنلیکونه د اسنادو دبشپړولو په موخه په رسمي توگه مسترد کیږي.
4. د دې لارښود د احکامو له پلي کولو څخه څارنه او ډاډ ترلاسه کول د بانک د څارنې د لوی آمریت دنده ده.
5. د هیواد د سوداگریزو بانکونو لخوا د دې لارښود د احکامو د نه رعایتولو په صورت کې به د افغانستان بانک په اړونده بانک باندې اړین تنفیذي شرایط وضع کړي.

## لومړی ملپانه:

| د حقوقي شخص (شرکتي) د تیلګرافي لیږد چک لېست | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | موارد | | پایلې | | که چېرې نه / لوړ خطر |
| | د ذینفع جزئیات | | هو | نه | |
| 1 | | د بانک نوم: | | | د معاملې درول |
| 2 | | د حساب شمېره: | | | د معاملې درول |
| 3 | | د شرکت نوم: | | | د معاملې درول |
| 4 | | فزیکي پته: | | | و غوښتل شي |
| 5 | | برېښنا لیک: | | | دوام |
| 6 | | ویب پاڼه: | | | دوام |
| 7 | | د اړیکي شمېره: | | | و غوښتل شي |
| 8 | | د سویفټ کوډ: | | | د معاملې درول |
| 9 | | نېټه: | | | د معاملې درول |
| 10 | | پولي واحد: | | | د معاملې درول |
| 11 | | مبلغ: | | | د معاملې درول |
| 12 | | موخه: | | | و غوښتل شي |
| 13 | | څېړنه، تشخیص او د درېیم شخص لخوا د هویت تثبیت:* | | | درول اوEDD |
| 14 | | د فنتراکا تر نظر لاندې لیست: | | | درول اوEDD |
| 15 | | سیاسي متبارز اشخاص (PEPs): | | | درول اوEDD |
| 16 | **د لیږونکي توضیحات:** | نوم: | | | د معاملې درول |
| 17 | | فزیکي پته: | | | د معاملې درول |
| 18 | | د اعتبار وړ جواز : | | | د معاملې درول |
| 19 | | د شرکت د مشر یا مرستیال پاسپورت یا تذکره( پېژند پاڼه): | | | و غوښتل شي |
| 20 | | د اړیکي شمېره: | | | و غوښتل شي |
| 21 | | برېښنا لیک: | | | دوام |
| 22 | | د حساب شمېره: | | | د معاملې درول |
| 23 | | د حساب ډول: | | | د معاملې درول |
| 24 | | د معاملې د موخې په یادولو سره د غوښتنلیک مکتوب: | | | و غوښتل شي |
| 25 | | د بِل کاپي/د ټرون کاپي: | | | د معاملې |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | درول |
| 26 | | د افغانستان له ګمرکونو څخه د توکو د ترخیص وروستی سند (ACCD): | | | د معاملې درول |
| 27 | | څېړنه،تشخیص او د درېیم شخص لخوا د هویت تثبیت: | | | درول اوEDD |
| 28 | | د فنټراکا تر نظر لاندې لېست: | | | درول اوEDD |
| 29 | | د ترهګرۍ د تمویل او د پیسو وینځلو د خطرونو د ارزوني لاربښوود سره سم د پېرودونکي د خطر ارزونه: | | | درول اوEDD |

*. د دې څېړنې (بررسی) موخه د بندیزونو د لېست د پلي کولو په معنی ده چې د بېلابېلو خدماتي شرکتونو د وړاندې کوونکو له لارې په بېلابېلو ډولونو تحقق پیدا کوي. لکه د: WorldCheck Refinitiv/Acuity او داسې نور.